# د "درد" او "خدائي خدمتگار" ډرامو په هکله تاريخي تېروتنې

# HISTORICAL INACCURACIES ABOUT DARD AND KHUDAI KHIDMAT GAR DRAMAS

ډاکټر مياں سهيل انشاء*

**Abstract**: Author of this paper pen pointed mistakes committed by the researchers and writers of Pashto language about the two preliminary historical Pashto stage dramas, *The Dard & The Khudai Khidmat Gar drama.*

The writer argues in the light of valid proofs that the actual date of publication of *the Dard* drama is before March, 1931 rather 1932 and it had been confiscated on 07th of April, 1931 by the then government.

Where as, Fazal Karim is the writer of *The Khudai Khidmat Gar* drama on the reprinted 2012, edition. The author of the paper opines that he knew Fazal Karim personally and interviewed him in 1988. He was not a writer and was in prison in 1932. Hence he is of the view that the Khudai Khidmat Gar drama is not written by Fazal Karim and its date of publication is also not 1932 rather it would be 1931.

کال ۲۰۱۲عيسوي کښې د پښتو دوه نايابه ډرامې تقريباً اويا کالو وقفې نۀپس دوباره چاپ شوې. يوه د امير نواز جليا" درد" او بله " خدائي خدمتګار" ده چې پرې نوم د فضل کريم راغلی دی. د دې دواړو ډرامو په باب ځينې وضاحتونۀ وړاندې کېږي چې زموږ د ادبي تاريخ ريکارډ درست ساتلو دپاره ضروري دي. اول به د جليا" درد" ډرامې پۀ بابله خبري وکړو.

**درد**: دا ډرامه باچاخان ريسرچ سينټر پېښور پښتونخوا له اړخه دوباره چاپ شوه، او پۀ دې د ړومبني چاپ کال (غالباً ۱۹۳۲) ليك دی. پۀ دې ډرامه د پښتو څانګې بلوچستان يونيورسټۍ کوټې جاويد اقبال شپږ مياشتنۍ "تکتو" جنوري-جون ۲۰۱۲ کښې يو تحقيقي بحث کړی دی او يو طوئيل بحث نۀپس سره د ثبوتونو

* Incharge Leprosy Ward, Govt. Lady Reading Hospital Peshawar

دې نقطې ته رسېدلی دی چې دا ډرامه د "جون نهٔتر دسمبر ۱۹۳۰ پهٔ دور کښې چاپ ده. دې لړ کښې ښاغلی جاوید اقبال لیکي:

" د دغه خور وور بحث په نتیجه کښې موږ وئیلی شو چې " درد" ډرامه په کال ۱۹۳۲ء نه بلکې جون ۱۹۳۰ء نه تر دسمبر ۱۹۳۰ء پهٔ مینځومانه کښې لیکل شوې او ضبط شوې ده. خو دا خبره مزید تحقیق غواړي چې ذکر شوې ډرامه انګرېز حکمرانانو پهٔ کال ۱۹۳۰ء کښې پهٔ چاپ شوي شکل ضبط کړې ده که د مسودې په شکل ؟ (۱)

پهٔ دې ډرامه باندې د امیر نواز جلیا یو لیك " ضروري خبره" هم شته. پهٔ دې کښې لیکوال د نظم پهٔ ژبه کښې مخ ۲۰ باندې لیکي:

د اشفاق تصویر مي سترګو کښې نن ګرځي
ځکه لوند مي دی ګریوان پهٔ اوښکو نم بیا

څومره سختې نن پهٔ بهګت سنګھ تېرېږي
شي پیدا به انډیا کښې داسې کم بیا

دلته د هند د ازادۍ د جدوجهد سره تړلي دوه کردارونه، اشفاق الله خان شهید او بهګت سنګھ ذکر کوي. وړومبتي بیت کښې د اشفاق الله خان ذکر د مرحوم پهٔ صفت کوي، څوك چې د ازادۍ جنګ کښې پانسۍ نه پس شهید شو. او دوړمبنې مرګ پهٔ غم کښې یې سترګو نه اوښکې پهٔ ګرېوان کښې څڅېدو پس پهٔ وجه لوند شوی دی. دویم بیت کښې د سردار بهګت سنګھ ذکر د ژوندي پهٔ صفت کوي. چې ډېرې سختې پرې تېرېږي، او داسې ځوان به انډیا کښې ډېر کم پیدا شي. اشفاق الله خان شهید او د دهٔ درې نور انقلابي ملګرو روشن سنګھ ،العبدر هري او رام پرساد بسمل د انقلابي جدوجهد پهٔ دوران کښې د کاکوري پهٔ مقام رېل ګاډۍ نه د حکومت خزانه لوټلې وه. د دې جرم پهٔ پاداش کښې حکومت دوی ته د دسمبر ۱۹۲۷ ع د کال پهٔ بېلابېلو نېټو پانسۍ ورکړې. پهٔ دې کښې اشفاق الله خان ته فیض اباد جېل کښې پهٔ ۱۸ دسمبر ۱۹۲۷ع کښې پانسۍ ورکړې شوه (۲)

چونکه لیکوال یې پۀ بیت کښې د مرحوم پۀ صفت ذکر کوي نو یقیناً چې دا ډرامه دې نېټې نه پس لیکلې شوې ده.جاوید اقبال د شتو معلوماتو تر حده دا ثابته کړې ده چې دا ډرامه ډېره وروستو د جون او دسمبر ۱۹۳۰ع پۀ مینځ کښې لیکلې شوې ده.

اوس به راشو دویم بیت ته، پۀ دې کښې د بهګت سنگھ ذکر د ژوندي پۀ صفت کوي. سردار بهګت سنگھ او دده یو بل ملګري باټو کېشوردت دهلي کښې مرکزي اسمبلۍ کښې دا معمولي شدت لرونکي دوه بمونۀګزار کړل او وروستو پۀ دې سازش کښې شریك د دۀ نه پرته دوه نورو ملګرو راج ګورو اور سکھ دیوتهاپر ته پر ۲۳مارچ ۱۹۳۱ کښې ماښام ۷:۱۵ بجې د پانسۍ سزاګانې ورکړې شوې.(۳)

چونکه جلیا پۀ دویم بیت کښې دی د ژوندي پۀ صفت یاد کړی دی. پۀ دې وجه د دې ډرامې د لیك نېټه ۲۳مارچ ۱۹۳۱ نه پس ته نه شي اوړېدی او ۱۹۳۲خو بالکل ناشونې خبره ده. بلکې اوس یو نوی ثبوت د راتلو پۀ بنا دا وئیل ګران نۀ دي چې دا ډرامه کم از کم د ۳مارچ ۱۹۳۱ نه مخکښې لیك ده. د پېښور یونیورسټۍ د تاریخ څانګې یوه پخوانۍ پروفیسره ډاکټر لعل بها پۀ اسلامیه کالج یو مضمون کښې لیکې:

" پۀ مارچ ۱۹۳۱ کښې یو ځل بیا د کالج نظم و ضبط ګډ وډ شو. دغه کال د مارچ پۀ دریمه نېټه پولیس د اسلامیه کالج د سېکنډ ائیر امیر نواز نومې یو طالب علم د بغاوت ترغیب ورکوونکښېیو پمفلت د چاپ کولو پۀ الزام کښې د کالج پۀ احاطه کښې اونیولو. ددې پمفلټ یا کتابګي نوم " درد" ؤ چې پښتو ژبه کښې شائع شوئ ؤ. پۀ اووم اپریل د یو حکم تر مخه حکومت د دې کتابګي ټول جلدونه ضبط کړل.(۴)

پۀ دې وجه د یوې محتاطې اندازې مطابق د " درد" ډرامې دلیك کال ۱۹۳۱کښې د ۳مارچ نه وړاندې دی او د ضبط کېدو سمه نېټه یې ۷ اپرېل ۱۹۳۱ ده او ۱۹۳۲ خو بیخي سمه نۀ ده.

د دې ډرامې پۀ باب نور دلچسپ معلومات دا دي چې پۀ دې کښې مخ ۳۶ باندې دریم پارټ (دریمه پرده) پیل کښېږي او پۀ دې کښې د فدا او نثار دوو وروڼو کردارونه پۀ ګوته کوي. دا دواړه وروڼه یقیناً چې ژوندي کردارونه دي. دوی د نوښار ضلعې پبو تحصیل یو کلي بانډه ملاخان کښې د قاري محمد ادریس زامن وو. چې

د پلار او زامنو د قربانیو پهٔ وجه دوی خدائي خدمتګار تحریك کښې ډېر شهرت ګټلی وو. یاده دي وي چې پهٔ کال ۱۹۳۱کښې د جلیا پهٔ ادارت کښې یو اخبار " انګار" خپرېدو. د دې اخبار یوه ګڼه کښې یو شاعر د ګدا پهٔ فرضي نوم د دوی پلار ته د زامنو د قربانو پهٔ وجه داسي خراج عقیدت پېش کړی دی:

بیا د ظالم د ظلم نخښنه اکبر پوره شوله
پهٔ سنګینونو کښې راګیره بې قصوره شوله

بیا جېل ته لاړل پهٔ سیالئ سره فدا او نثار
مبارکي قاضي صاحب ته اوس ضروره شوله

نوجوانان د سرحد نهٔ اوري خبر شه کېرو
یو ځل به واورمه چې مور دربانديږ بوره شوله

د ازادئ ناوې له مهر کښې سرونه ورکړئ
چغه پهٔ خولهٔ د هر زلمي د حبیب نوره شوله

ګدا صداکړي چې به زاغ کړمه بهر ورځنې
د ازادئ باغچه پهٔ وینو اوس ماموره شوله

د دې اخبار د اشاعت کال سهواً ۱۹۲۱ء لیکلی شوی دی کوم چې سم نهٔ دی. هم پهٔ دې رساله کښې وړاندې دا کال ۱۹۳۱اوښائي(۵)
پهٔ دې ډرامه کښې یو بل وضاحت هم ضروري دی. جلیا د " درد" پهٔ مخ ۳۸ باندې یو بیت داسي لیکي:

د وطن خاورې راله لرې پهٔ کفن کښې کښېږدئ
یو ځو ګلونهٔ د وطن مې پهٔ مدفن کښې کښېږدئ

د جلیا دغه بیت د اشفاق الله خان شهید(څوك چې یو شاعر هم ؤ) دې بیت نه الهام اخلي.

کچھ آرزو نہیں ہے، ہے آرزو تو یہ (ہے). رکھ دے کوئی ذرا سی خاک وطن کفن میں (٦)

جلیا د اشفاق پوره بیت د خپل شعر پۀ وړومبي نیم بیتي کښې راغونډ کړی دی او دویمه نیمه بیتي پرې اضافي ده. راځئ چې اوس بلې ډرامې "خدائي خدمتګار" ته پاملرنه وکړو.

**خدائي خدمتګار**: پۀ دې کتاب د لیکوال نوم فضل کریم د پبو ښودلی شوئ دی. دلته اشاعت اول مخې ته داسې لیك دی. ۱۹۳۲ او (هم پۀ دغه کال انګرېز ضبط کړه). فضل کریم زموږ د کلي یو دروند خوږ خدمتګار ؤ. راقم السطور ترې نه کال ۱۹۸۸ کښې ښه تفصیلي انټرویو اخیستې وه. که دا ووئیلې شي چې زموږ به روزانه ملاقات کېدو نو خبره به سمه نۀ وي ځکه چې ضروري کار او موسمي حالاتو پۀ وجه دا ګرانۀ ده. خو پبوکښې دا خدائي خدمتګار ، غازي خان دوکان کښې به تقریباً هفته کښې درې څلور ورځې د ملاقات موقع تر لاسه کېده او ورسره به ښۀ ګپ شپ لګېدو. د تحریك پۀ بابله به یې ډېرې ګټورې خبرې کولې. پۀ سالمه موده کښې د دۀ د خولې نه پۀ دروغو دا خبره نۀ ووتله چې کنې دی هم یو لیکوال دی. دی، میاں محمد شاه، غازي خان او ددۀ ورور عثمان شاه یقیناً چې تعلیم یافته وو. خو لیکوال هیڅکله نۀ وو. زما چې ورسره تفصیلي انټرویو کېدله نو راته به یې وئیل چې پۀ ورځ راځه او راته یې اوروه. چې کوم ځای غلطي شوې وي هغه به سمه کړو. دغه اصلاح شده (او ابتدائي معلومات هم) ماسره اوسه پورې شته. د دۀ انټرویو تر مخه دی مېټرك پاس ؤ. پۀ پبو کلي کښې سره د نورو پینځو ملګرو سبقتي اېکټ لاندې ستمبر ۱۹۳۰ کښې ګرفتار شو او پۀ ۵مارچ ۱۹۳۱ کښې ګاندي۔ ارون پیکټ لاندې خلاص شو. بیا پۀ ۲۵دسمبر ۱۹۳۱کښې پبو سره نزدې ارمړو پۀ کلي کښې د ډاکټر خان صاحب زوی سعدالله خان سره یو ځای ګرفتار شو. جېل کښې دی د تې بي پۀ مرض اخته شو. پۀ ۲۵جنوري ۱۹۳۳چې اختر ته درې ورځې پاتې وې نو د مېډیکل پۀ بنیاد خلاص شو.دۀ سالم ۱۹۳۲ کال پۀ جېل کښې تېر کړو او پۀ جېل کښې به کله یو ځای او کله بل ځای او کله هسپتال کښې ؤ. زه چې کومه خبره یادوم هغه داده چې یو ځل یې راته ووئیل چې لیك ډېر ګران کار دی . دا ستاسو پۀ شان د لیکوالو ذمه داري ده چې خدائي خدمتګاران قوم ته روښانۀکړئ. نو یو خو دی لیکوال نۀ ؤ او بل دا چې سالم ۱۹۳۲ء کال یې جېل کښې تېر کړی دی. نو یو کس چې پۀ نارمل حالاتو

کښې يو مضمون قدر يې هم رساله کښې نۀ وي چاپ، نو ډرامه به څنګه ليکي او هغه هم پۀ داسي قسم نامساعدو حالاتو کښې او دغه وجه ده چې لکه زېبر حسرت ورته اشاره کړې ده چې پۀ دې کتاب د فضل کريم نوم د پبلشر پۀ توګه راغلی دی، نۀ چې د ليکوال پۀ صفت(م م ۱۹-۲۰) او د کتاب پبلشر خو هر څوك کېدی شي، ولې دلته يو بل سوال پيدا کېږي. هغه دا چې دی سالم کال ۱۹۳۲ کښې جېل کښې ؤ، نو بيا خو د دۀ نوم د پبلشر پۀ طور هم کال ۱۹۳۲کښې سمون نۀ خوري. دا خو پۀ کار ده چې دا کال ۱۹۳۱ کښې د ۶ مارچ نه تر ۲۵دسمبر پورې چاپ وي. کله چې دی جېل کښې نۀ ؤ. او کنې بيا ۱۹۳۳ کښې کوم کښې چې دی ازاد ؤ. خو که د دواړو ډرامو "درد" او " خدائي خدمتګار" ليك ټائيټل مخونو ته وګورو نو د وړومبي چاپ کال ۱۹۳۲ښودلی شوی دی. او دواړه هم پۀ دغه کال ضبط ښودلي شوي دي. ايا داسي خو نۀ ده چې دواړه دې هم پۀ يو کال ضبط شوي ؤ.خو کال ۱۹۳۱کښې، نۀ چې ۱۹۳۲ کښې کله چې د درد ډرامې د ضبط کېدو کال ۷ اپريل ۱۹۳۱دی. او دا هغه موده ده چې فضل کريم ازاد ؤ او بحيثيت پبلشر يې کتاب چاپ ته اماده کولی شو.

# حوالې


(۱) اقبال، جاویداقبال، د درد ډرامې یوه څېړنه، مشموله، تکتو، شماره ۷ ، جلد ۴ ،جنوري۔ جون ۲۰۱۲، م ۹۹

(۲) فاطمه، زرین، سرفروشی کی تمنا او بهګت سنگھ ، ستي بك پوائنټ کراچی، ۲۰۰۹،م ۴۸

(۳) همدغه، م ۲۰۹

(۴) بها ، محترمه ډاکټر لعل، د اسلامیه کالج پېښورتاریخ، د ښاغلي هنري مارټن ، دپرنسپلۍ دور، (۱۹۳۳-۱۹۲۰) ش، میاشتیزه مجله پښتو، پښتو اکېډمي پېښور، یونیورستي، اکتوبر ۱۹۷۸،م ۱۱

(۵)درد مند ، عبدالمنان، د خپلواکۍ ترون، کابل، ۱۳۴۸ش د سنبلې نهمه نېټه، م ۱۶۶-۶۷، او ۱۲۹-۳۰

(۶) سر فروشی کی تمنا اور بهګت سنگھ، م ۴۸